ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17

OPEN ACCESS

CC BY NC

**نیک محمد**
ایم فل اسکالر، شعبہ پشتو، یونیورسٹی اف بلوچستان

**پروفیسر ډاکټر نصیب اللہ سیماب**
شعبہ پشتو، یونیورسٹی اف بلوچستان

# د لیکني مجلې د ادارېي ارزښت

**Nek Mohammed**
M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.
**Pro.Dr.Naseebullah Seemab**
Department of Pashto, University of Balochistan Quetta
***Corresponding Author:**

## Importance of the Editorials of LEKANEE Magazine

The LEKANEE magazine editorials are the best examples of Pashto prose. The style and thought under which the editorials were written add significantly to the collection of Pashto Prose. In the editorials of LEKANEE magazine, numerous articles, explanations, critical and research articles are published about different genres, ideas and trends of literature, which are exactly in accordance with the literary requirements of the present day and are a milestone in the Pashto literature.

**Key Words:** *LEKANEE, editorials, Pashto Prose, Significantky, Present day.*

دري میاشتنۍ لیکني مجله د پښتو اکیډیمۍ بلوچستان کوټي د پښتو ژبي ادب،کلتور او تاریخ د ژغورني، پالني او پر مختګ د پاره د نیمي پېړۍ څخه د روانو خدماتو د تسلسل هغه کړۍ ده چي د دوه زره څوارلسم(۲۰۱۴م) میلادي کال د جنوري د میاشتي څخه یې اشاعت پیل سوی دی او تر اوس مهاله یې د خدماتو لړۍ دوام لري.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17


لیکني مجله د موضوعاتو له پلوه ګڼ اړخیز ادبي مجله ده چې کلتوري،تاریخي،اصلاحي او په زیات شمېر ادبي موضوعات یې په پاڼو او ګڼو کې شائع کیږي چې د قام د هري طبقې او عمر و جنس د انسانانو د ادبي ذوق اوبه خور کوي څکه خو غازي سیال هم وائي چې.

"لیکني چې ډېره زیاته خوښه ده د هر قسم او د هري طبقيي خوښه پکښې موجوده وي"(1)

او محبوب ګل یاسر بیا وائي چې.

"لیکني مجله یوه علمي او ادبي مجله ده ددې هر لیک په خپل ځای د ویاړ جوګه او پر تاثیره دی".(2)

درې میاشتنی لیکني مجله د ژوند د نوؤ غوښتنو او جدید ادبي رحجاناتو په تناظر کې د پښتو ادب د پر مختګ د پاره چې کوم موضوعات او د هغو په چوکاټ کې کومې مقالي،مضامین او نور شعري مواد و پښتو ادبي لړی ته سپاري د هغو موضوعاتو د ډلي څخه یوه اداریه هم ده.اداریه که څه هم د ادب یو مخصوص صنف نه دی خو د نثري ادب په پر مختګ کښې او د یو مجلې په اشاعت کښې ډېر مهم رول لري.

اداریه په بنیادي توګه د صحافت او په خصوص سره د چاپي صحافت(Print Media) اصطلاح ده چې په انګریزي کښې ورته اېډیټوریل(Editorial) ویل کیږي.

اداریه هغه لیکنه یا تحریر دی چې په یوه مجله یا ورځپاڼه کښې د مجلې د مدیر یا مجلس ادارت له خوا پر روانو حالا تو، مهمو ستونزو او د علمي و ادبي رحجاناتو او میلاناتو و لوري ته د لوستونکو پام د اړولو د پاره لیکل کیږي.اداریه د مجلي یا د ورځپاڼي د پاره د ملا د تیر حیثیت لري.په اداریه کښې د مجلې د لوستونکو د لارښووني،اصلاح او رهبرۍ د پاره بیل بیل موضوعات د مجلې د تاکلي پالیسي په رڼا کښې شائع کیږي.د اداریي د پېژندګلوي په هکله ښاغلی پروفیسر انور جمال صاحب په خپل کتاب"ادبي اصطلاحات" کښې د کارل جې ملر تعریف داسې نقل کوي هغه وائي چې.

"اداریہ اس مضمون کو کہتے ہیں جو کسی ہنگامی موضوع پر لکھا گیا ہو اور اس میں قاری کی سوچ ایسی راہ پر ڈالنے کی کوشش کی گئی ہو جو مضمون نگار کے خیال میں صحیح راہ ہے۔اداریہ نویس قاری کو ایسے نقطہ نظر سے متفق کرنے کی کوشش کرتا ہے جس سے قاری قائل ہو جائے اور موافق ردعمل ظاہر کرے۔اداریہ نویس مختلف ترغیبی طریقوں سے کام لیکر قاری کے جذبات و احساسات کو جائز طور پر متاثر کرتا ہے"۔(۳)

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

ژباړه: اداریه هغه مضمون ته ویل کیږي چې پر یو هنګامي موضوع باندې لیکل سوې وي او د اداریې د لارې د لوستونکې د سوچ نیلې پر داسې لار روان کړي چې د مضمون نګار په فکر هغه لار صحیح وي. اداریه نویس لوستونکی پر یو داسې نقطه نظر باندې د متفق کولو هڅه کوي چې د هغې په وجه لوستونکی متفق سي او موافق غبرګون ښکاره کړي.اداریه نویس د بېلا بېلو ترغیبي طریقو د لارې د لوستونکې جذبات و احساسات په جائزه توګه اغېزمن کوي.

اداریه د یوې مجلې یا رسالې یا د هغه اداري پالیسي وي کومه اداره چې مجله خپره وي.رسالې او مجلې د موضوعاتو او له مقاصدو له رویه توپیر لري نو له دې کبله یې د اداریې موخې او مقاصد هم بېل بېل وي.په ځینو مجلو او رسالو کښې اداریې د اولس د سیاسي،علمي او مسلکي شعور د بیا بیدارولو او پیاوړي کولو د پاره لیکل کیږي او په ځینو مجلو کښې بیا اداریه د خپروندوي اداري او د مجلې د مقاصدو او کړنو د اظهار او تشهیر د پاره لیکل کیږي خو د علمي او ادبي مجلې اداریه عموماً د مجلې د مندرجاتو د تعارف په اړه وي او ځینې اداریې د ادب مسائلو،رحجاناتو او تګ لارې په هکله هم لیکل کیږي.لکه څنګه چې محمد زابر سعید بدر هم په خپل کتاب میګزین جرنلزم کښې ورته اشاره کړې ده.

> "علمی و ادبی رسائل میں بالعموم اداریہ میں مندرجات کا تعارف کروایا جاتا ہے لیکن بعض اوقات اداریہ میں ادبی رجحانات،مسائل اور مناقشات کے حوالہ سے بھی بات کہی جاتی ہے۔علم اور ادب کی دنیا میں مختلف نظریات اور میلانات پر بحث ہوتی رہتی ہے اس میں مختلف گروہ اور مکاتب فکر بھی ہوتے ہیں اگر مجلے کا تعلق کسی خاص مکتب فکر یا گروہ کے ساتھ ہو تو اداریے میں اس کے خیالات اور نظریات کی ترجمانی کی جاتی ہے"۔[4]

ژباړه: د علمي او ادبي مجلو په اداریه کښې په عمومي توګه د ګڼې د لیکنو د پېژندګلوي په هکله مطالب وړاندې کیږي لیکن کله ناکله په اداریه کښې د ادبي رحجاناتو،ستونزو او مناقشو په هکله هم خبره کیږي. د علم او ادب په نړۍ کښې پر بیلا بیلو نظریاتو او میلاناتو باندې بحث و تذکره دوام لري.بیلا بیلې ډلې او فکري مکتبونه وجود لري که د مجلې تړون د یو مخصوص مکتب فکر او ډلې سره وي نو په اداریه کښې یې د خیالا تو او نظریاتو د ملاتړ او ملګرۍ آثار تر سترګو کیږي.د دغه تناظر په رڼا کښې دړې میاشتنۍ لیکني مجله خالص ادبي مجله ده چې هیڅ سیاسي او ډله ایز مقاصد نه لري او صرف د یو مقصد د پاره کار کوي چې پښتو ادب ته د نړیوال معیاري ادب په چوکاټ کښې هغه مقام وګټي چې د نړۍ د نورو قامونو و ژبو او ادب ته ور په برخه دی.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17


په ليکني مجله کښي پر بېلا بېلو موضوعاتو باندي ډېري اداريې ليکل سوي دي چي په مجموعي طور د اداريې د ټولو اقسامو د نمائندګی سره سره د پښتو نثر د لوړي درجي بېلګي هم دي او دغه اداريې که په هر طرز فکر او موضوع باندي ليکل سوي دي و پښتو نثري ادب ته لويه ادبي پانګه ورسپاري چي انکار يې لمر په ګوته پټول دي.

د ليکني مجلې د يو څو اداريو بېلګي په دا ډول دي چي په خپل متن کښي د موضوعاتو په اړه ارزښت مند مواد وړاندي کوي.

د درې مياشتنی ليکني مجلې د اشاعت په هکله به يوه اداريه کښي پر پښتون قام داسي زېری سوی دی.

> "دادئ په ډېر لوی زړه او خوشحالي سره پر تاسو باندي دا زېری کوو چي د پښتو اکيډيمی له خوا څه په باقاعده ډول د درې مياشتنی رسالي اجرا د "ليکني" په نامه باندي وشوه".(5)

په يوه بله اداريه کښي د مجلې ملکيت او کاميابي د قام اجتماعي ذمه داري بلل سوې ده.

"دا د چا ذاتي مجله نه ده دا د يو علمي اداری رساله ده د دې مجلې مخ په وړاندي بيول زموږ اجتماعي او قامي ذمه داري ده".(6)

د مجلې د اشاعت،مقصد او په مجله کښي د چاپ کېدونکو موضوعاتو په هکله په يوه اداريه کښي داسي ويل سوي دي.

> "زموږ وس او زيار به دا وي چي تر تاسو پوري داسي تحقيقي،تخليقي،تاريخي او ادبي مضامين در ورسوو چي هغه د پښتو ادب او پښتو وطن په ګټه تمام شي.همدغه زموږ ارزو او تلوسه ده".(7)

د ليکني مجلې موضوعات نه صرف تحقيقي،تخليقي، تاريخي او ادبي دي بلکي د بين المللي ادب په څېر د نوي دنيا د نوؤ ادبي تقاضو سره هم ورته والی لري لکه په دغه اداريه کښي چي اشاره ورته سوې ده.

> "که زموږ ليکني د ننی حالا تو په چوکاټ کي وي او زموږ د فکر زاويي د ننی بين المللي ادب د چينو ورته والی ولري نو دا به موږ و خپل مرام ته نور نزدې کړي ولي چي دا وخت دنيا بدله ده. د وخت او د دغه ادارو له بدلون سره د ژوند تقاضو هم بدلون موندلی دی".(8)

"د خويندو ږغ" د ليکني مجلې ځانګړی سر ليک دی چي د ټول پښتون آبادی د نيمي څخه د زياتي طبقي د احساساتو،نظرياتو،فکري و علمي ميلاناتو د اظهار د پاره ټاکل سوی دی. په يوه اداريه کښي د ليکني مجلې و دغه ځانګړيتوب ته په داسي نظر کتل سي دي.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

"موږ د روایاتو د زولنو ماتولو د پاره په دې مجله کښې ځانله یوه سلسله د خویندو د ړغ تر سر خط لاندې ټاکلې ده".[9]

د لیکنې مجلې د ادارېو ددغه بېلګو ارزښت دا دی چې په دغه کښې د مجلې د اشاعت،مقصد، مضامینو او ځانګړنې په هکله معلوماتې مطالب وړاندې سوې دې چې یو خو په تاریخې حواله د مجلې روڼ عکس منعکس کوي او بل د پښتو ادب د نثر و ځانګې ته جامعیت او ځلا وربخښي.

د لیکنې مجلې په اداریو کښې د لیکوالانو او شاعرانو په هکله هم ډېر مضامین لیکل سوي دي چې د ادیبانو او لیکوالانو ته د خپلې ملي فریضې د یادونې موضوعات لري.دغه لاندې بېلګه یې یوه بهترینه نمونه ده.

"زموږ د شاعرانو او لیکوالانو دا ملي فریضه جوړیږي چې هغه د خپل قلم په اساس د امن ړغ اوچت کړي او د دې د پاره د قام او وطن د هر خوا خوږي کوچنې او لوی ته د ادب په خوندوه جامه کښې دغه ړغ ورسوي.چې د یزیدیت په ضد په شعوري ډول پاڅېدل د خلکو د زړونو داسې خوږ آواز وګرځي چې د هر چا په شونډانو باندې د امن او مینې نغمې په نڅا شي همدغه زموږ اخلاقي او انسانې فریضه ده همدغه د ادب هغه لوړ او ارفع مقام دی چې د نړۍ په هر کونج کښې یې د مینې او ښائست یو خوندور بروړ دی".[10]

علم د فرد او قام د ترقی او پرمختګ اولنی او یوازینی زینه ده.د علم په اساس دنیا اوس ځلور کونجه پینې نه بلکې د نړۍ وال کلي (Global Village) ټائیټل خپل کړی دی چې هلته د خوشحالیو،ښیګړي،غربت بېروزګارۍ، محرومیت او بدبختیو سوب قسمت او قومي و مذهبي بېلتون و تفریق نه بلکې فردي و قامي بې علمي ګڼل کیږي.دا مهمې ستونزې ته په یوه اداریه کښې د لوستونکو د پام راړولو هڅه په دا ډول سوې ده.

"استحصال،رنګ،نسل و مذهب نه کوي بلکې دا کار ځینې طبقې کوي او هغه طبقې ځکه په دې کښې بریالی شي چې د موخر الذکر یعني محرومې طبقې د علم،هنر او چمل جرړې وچې شوې وي.په هغو کښې د غورځنګ حس ختم شوی وي او د هغوئ دا نه عمل په دوی کښې دا فکر پیدا کړی وي چې دا هر څه خدای کوي".[11]

په بله اداریه کښې عصري علوم د ننی دنیا د پر مختګ او بدلون ذریعه ښودل سوې ده او د خپل قام مادي ترقی او پرمختګ راز هم د عصریز علومو په زدکړه او عام کېدو کښې ګڼې لکه.

"د نن په دنیا کښې چې کوم بدلون راغلی دی هغه د عصري علومو په رڼا سره راغلی دی.دا د سائنس او ټیکنالوجي دنیا ده. دلته د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

ټولنيز ژوند او اقتصاد و ترقۍ ته که لاره هوار بدلاى شي نو دهغه ټولو غوره سوب علم دی".(12)

مورنۍ ژبه د عصري علومو د زدکړي د پاره د ارزښت مند قدم ثابت کېدی شي ولي چي دا د انساني تاريخ د پنځه زر کلني تجربه څخه ثابته شوې ده چي هيڅ يو قام هم په پرېدۍ ژبه کښې د علم او ترقۍ اوږد مزل نه شي تر سره کولاى.دغه مهمه نقطه د ليکني مجلې په يوه اداريه کښې په دا شان وړاندي شوې ده.

"د علم دغه درنه ونده په خپله مورنۍ ژبه کښې آسانه او وړيا په لاس راځي ځکه چي د پنځو زرو کلونو تجربه دا ثابتوي چي يو قام هم په پرېدۍ ژبه کښې د علم او ترقۍ دا اوږد منزل نه شي تر لاسه کولاى همدغه وجه ده چي الله تعالیٰ پخپله ټول انبيا د تعليم او تربيت د پاره د هغه قام په ژبه کښې دنيا ته رالېږلي دي او هر نبي د خپل امت په ژبه کښې د خپل امت ته دعوت ورکړی دی".(13)

کلچر،دود دستور او ژبه د يو قام د قامي انفراديت او تشخص د ژوندي او برقرار ساتلو لازمي اجزا دي. په نړۍ کښې چي څومره قامونو استوګن دي هر يو ځان له خپله ژبه،دود دستور او کلچر لري او د خپل کلچر د ژوندي ساتلو د پاره په کال کښې يوه ټاکلې ورځ د کلچر ډې په نامه لمانځي.پښتون قام هم خپله قامي کلتوري ورځ لمانځي.ددغه ورځي د تاريخ اړخ په هکله د ليکني مجلې په يوه اداريه کښې داسي معلومات وړاندي سوي دي.

"په دي اړه د ستمبر2015م په سيمينار کښې د پښتون د کلتوري ورځي د لمانځلو د پاره يوه کميټه ترتيب کړل شوه. په دغه کميټه کښې د افغانستان،خيبر پښتونخوا او د سهيلي پښتونخوا ممبرانو ګډون درلود.دغه کميټې په اتفاق سره د درويشتم ستمبر ورځ د پښتون کلتور ورځ(Pashtoon Culture Day) په توګه د لمانځلو پرېکړه وکړه.د دغه ورځي د ټاکلو يو اهميت دا دی چي شپه او ورځ سره برابره شي او دغه يووالی د قامي ژوند او وطن د وګړو تر ميان د يووالي او برابرۍ علامت وي".(14)

پښتون وطن د تيرو څلويښت کلونو څخه د بدامنۍاو جنګ جګړي سره مخامخ دی چي اصل وجه يې زموږ د وطن جغرافيائي پوزيشن دی او بله وجه يې د ليکني مجلې په اداريه کښې داسي په ګوته سوې ده.

"اصل پيښه او غټه بدبختي د پښتنو خپل کردار، خپلي د منځ جګړي،د اقتدار هوس او د خپلي ذاتي ګټو د تر لاسه کولو د پاره ننګ او وطن تر شا کول.هن له يوه اقتداره څه تربل اقتداره پوري دغه بدمرغي زموږ په قسمت وه".(15)

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17


آثار قديمه يا د لرغوني آثارو پلټنه د قامونو،تهذيبونو او ژبو په اړه نوي سائنسي و علمي شواهد رابرسيره کوي چې د قامونو د تاريخ،رهائش،مذهب و روزګار په هکله مهم تاريخي اسناد لري چې له برکته يې قامونه تر خپل زرګونه کلونو زاړه تاريخه پوري ځان رسوي.په سهيلي پښتونخوا کښې د آثار قديمه غنډياني چې د دې سيمې د کلچر او تهذيب و تمدن تاريخ په زرګونو کلو مخ ته بيولای سي اوس د (Antique Mafia) د چر او شلوني سره مخامخ دي چې د ليکني مجلې په اداريه کښې يې داسي يادونه سوې ده.

"د بدمرغۍ خبره دا ده چې له تېرو دېرشو کلو څخه چې په سهيلي پښتونخوا کښې چرته هم د آثار قديمه پېژندل شوي او ناپېژندل شوي غونډياني دي په هغه کښې په انفرادي توګه کيندني رواني دي خلګ له خپله مخه لګيا دي آثار او باقيات راباسي او پر انتيک مافيا(Antique Mafia) باندي يې په نه څۀ پلوري".(16)

په ادبي دنيا کښې چې د جديديت او عصري تقاضو په بهير کښې د فاش او لوېډلو منظر کشيانو او تورو د استعمال په ذريعه د فحاشۍ او بې لارۍ کوم بازار تود دی دا نه د ادب خدمت دی او نه د روايتي وندر د زنديو څخه د خلاسون لاره ده بلکي د قامي اقدارو او اخلاقو د زوال يو مکروه عمل دی.د دغه عمل د ليکني مجلې په يوه اداريه کښې په دغه تورو غندنه سوې ده.

"کله کله خو د نوي توب يا د عصري تقاضو په نامه باندي په شاعري غوندي لطيف صنف کښې تر دې ځايه پوري ورسو چې د انتهائي فحش او لوېډلو تورو په کارولو باندي د آفاقي پيغام مهر لګوو يا و داسي شاعر ته د دې ښکنځکو داد ورکوو".(17)

د مشرانو په ننګ او مېړانه فخر کول د يو قام حق او افتخار خو کيدای سي خو په دغه نامه وخت او ورځې اړول او د عمل په ميدان کښې هيڅ نه کول يا د پښتو د متل په مصداق"پر مړو هيرو يو پل نه معلومېدل" د ناراستۍ او ذهني پسماندګۍ يو ډول دی چې د ليکني مجلې په اداريه کښې يې په دغه الفاظو يادونه سوې ده.

"زموږ ځيني ادب وال چې اوس هم په دا ماليخوليا اخته دي چې موږسر لوړي يو،ذهين يو،مېړني يو، مهذب يو، زمري، ننګيالي،توريالي او جنګيالي يو.يعني د عمل ميدان د خبرو په آس فتح کوو او بيا د خپل ځان د احتساب پر ځای.بس د بل استحصال او بلواکۍ سوب بولو خو دې ته نه ګورو چې تر بل له مخه بايد موږ د ځان نااهلي،خودغرضي،ځان ځاني د پاره د خپل ځان محاسبه وکړو او اول و خپل ځان ته دا ګوته ونيسو چې ما د قام د يو ذمه داره وګړي په اساس خپله قامي فريضه تر کومه ځايه ادا کړې ده".(18)

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17

ماخذ تحقیقی مجلہ

د ليکني مجلې زياتره اداريې د ادب د بيلا بيلو اصنافو،نظرياتو،ميلاناتو او رحجاناتو په هکله مضامين،توضيحات،تنقيدات،تحقيقات او علمي و اصلاحي موضوعات لري خو د سياست په هکله هم پکښې خال خال ځېړنيز مواد وړاندي سوي دي چي يوه بېلګه يې د سياسي ډلو د مشرانو او پلويانو د ناوړه تورونو،درغليو،ښکنځلو او ناروا پروپګنډې په هکله په دا ډول ده.

"دې مخکښانو نور خو پرېږده د اخلاقياتو ځادر هم تار په تار کړی دی.پر يو بل باندي بېهوده تور لګول،شخص پرستي، په ناوړه تورو کښې پېچلي ښکنځل،مخاصمانه انداز،لالچ،هوس،اقتدار او فتوىٰ بازي تر دې ځايه رسولي يو چي د قامي چارو علاج راته انډوخر معلومېږي او عام ساده اولس مي و دا ته هڅه ولی دی چي او س هيڅوک وريشتيا اورېدلو ته لا هم نه دي تيار ځکه چي هغوی هره نغاره اورېدلي ده نه خو د پښتونولي او نه د اسلام تر منزله رسېدلي دي"[19]

د ليکني مجلې په يوه بله اداريه کښې د سياسي ګوندونو د احتساب او د مثبت سوچ و فکر پر بنياد د نوي قامي او اولسي منزل تعين په هکله وائي چي.

"په ټول وطن کښې سياسي هلې ځلې شروع شوي دي.د انتخاباتو راتګ دی.سياسي ګوندونه خپل د رښتيا او دروغو عمل و خپل اولس ته وړاندي کوي.د الزام تراشی او دوشنام ترازی،د کانو باران په زوره زوره اوري چا له چي موقع په لاس ورغلې وه هغه صفائي وړاندي کوي څوک چي له سره نوې برخه غواړي هغه خپل مړي له ګوره راکاږي چي دا يې کړي دي او دغه د امن لاره يې راته جوړه کړې ده.خو په دې کښې د مزې خبره دا ده چي د تېروتنو او د احتساب خبره هيڅ څوک نه کوي ښه به دا وي چي د تېروتنو په رڼا کښې د مثبت سوچ او فکر يوه داسي زاويه منځ ته راغلې وای چي هغه د سبا د پاره د نوي منزل د تعين سبب وای."[20]

د ليکني مجلې د اداريو يوازي د نثر طرز و انداز ښه نه دی بلکې د تحرير د بيلا بيلو طرزونو په وجه هم د ليکني مجلې اداريې ارزښت لري. د خطيبانه يا تقريرانه طرز يې تحرير يوه بېلګه يې په دا ډول ده.

"درنو لوستونکو: د لوی خدای شکر ادا کوو چي د پښتو اکيډيمی د خوا څه د ليکني مجلې دويمه ګڼه په خپل ځانګړي رنګ،معيار او نوو ليکنو سره تاسو ته وړاندي کوو"[21]

د خطيبانه طرز تحرير څخه لوستونکي دا اثر اخلي لکه ليکوال چي ده ته براه راست لارښونه کوي او دی يې په غور سره اوري او چي په داسي انداز کښې د

ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

ليکلو ښخه لوستونکي د وعظ او تقرير خوند هم اخلي او داسي تحريري انداز و طرز پښتو ادب ته د جديد نثري ادب نوې لاره هم خلاصه وي.

پايله:

له دې ټول بحث ښخه موږ دې پايلي ته رسيږو چي د ليکني مجلي اداريي تش په نامه اداريي نه دي بلکې د يو خاص او ټاکلي مقصد لپاره ليکلي شوي دي چي دا دوی سنجيدگي ښکاره کوي.په اداريو کي دا شی له ورايه ښکاره کيږي چي پښتو اکيډيمی مقاصد څه دي.هغوی د کوم شي لپاره کار کوي. هغوئ تش او تش د پښتو ادب، کلتور، تاريخ جغرافيه په هکله خپل لوستونکي خبروي او دا باور ورکوي چي دوئ د خپلي ژبي، کلتور او ادب په پر مختګ کي خپل رول لوبوي.دا رول نه د کوم سياسي ګوند په ګټه دی نه د چا انفرادي مقصد پوره کوي بلکي دا د ټول اولس ږغ دی يو اجتماعي فکر نمائندګي ده.که يي پر نثر او اسلوب باندي غور و فکر وکړو نو هلته هم رايه ډاره کيږي چي د ليکني اداريي يو حاصل اسلوب څوک ليکي .د ليکني مجلي په اداريو کښي په بيلا بيلو قامي،ژبني،ادبي او سياسي موضوعاتو باندي ښه په زړه پوري بحث شوی دی د پښتون قام و هري مسئلي ته نه صرف په ژور نظر کتل شوي دي بلکي د هري ستونځي حل يي هم قام ته په ګوته کړی دی.د ليکني مجلي په اداريو کښي د نثر د معيار د ساتلو د پاره د بېلا بيلو طرزونو سره سره د ژبي اصل ټکي کارول شوي دي.د غير ضروري بحث و مباحثي او جملو په بيا بيا د تکرار ښخه هم ډډه سوې ده.

حوالي

(۱) سيال،غازي،دري مياشتنی پښتو مجله ليکني،پښتو اکيډيمی بلوچستان کوټه،(جلد۳،شماره ۱۵-۱۶)،مخ ۳۲۹
(۲) ياسر ،محبوب ګل،درې مياشتنی پښتو مجله ليکني،پښتو اکيډيمی بلوچستان کوټه،(جلد۳،شماره ۱۵-۱۶)،مخ ۲۲۳
(۳) انور جمال،پروفيسر،ادبي اصطلاحات،طبع سوم،نيشنل بک فاؤنډيشن،اسلام آباد(۲۰۱۲)،ص ۱۵
(۴) بدر، محمد زابر سعيد،ميګزين جرنلزم،مکتبه دانيال لاهور،(۲۰۱۳)، ص ۱۶۸
(۵) اداريه،درې مياشتنی پښتو مجله ليکني،پښتو اکيډيمی بلوچستان کوټه،(جلد۱، شماره ۴)،مخ ۵
(۶) اداريه،درې مياشتنی پښتو مجله ليکني،پښتو اکيډيمی بلوچستان کوټه،(جلد۱، شماره ۴)،مخ ۶
(۷) اداريه،درې مياشتنی پښتو مجله ليکني،پښتو اکيډيمی بلوچستان کوټه،(جلد۱، شماره ۶)،مخ ۵

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-17
ماخذ تحقیقی مجلہ

(۸) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۱، شماره ۴)،مخ ۶
(۹)همدغه اثر، مخ ۷
(۱۰) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۲، شماره ۹)،مخ ۶
(۱۱) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۱۵-۱۶)،مخ ۷
(۱۲) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۲، شماره ۱۲)،مخ ۶
(۱۳) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۱۵-۱۶)،مخ ۸
(۱۴) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۲۱)،مخ ۶
(۱۵)اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۱۴)،مخ ۶
(۱۶) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۱۷-۱۸)،مخ ۷
(۱۷) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۲، شماره ۱۲)،مخ ۵
(۱۸)همدغه،مخ ۷
(۱۹) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۲، شماره ۱۰)،مخ ۶
(۲۰) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۳، شماره ۱۹-۲۰)،مخ ۶
(۲۱) اداریه،درې میاشتنۍ پښتو مجله لیکني،پښتو اکیډیمی بلوچستان کوټه،(جلد۱، شماره ۵)،مخ ۵